# Stori Magazine 8th Issue
# Jan-Feb 2011




# ستوري مجله اتمه ګڼه
# ۲۰۱۱ ع کال

رتبه او حکومت او بادشاهي حاصلول د انسان د ژوند مقصد او سعادت نه دی، نو اوس پوښتنه پېدا کېږي چې د انسان د ژوند مقصد او سعادت به څه شی وي؟

ددې پوښتنې د حل کولو لپاره که د انسان ظاهري ترکیبي جوړښت ته ژور فکر وکړو، نو راته به معلومه شي چې د انسان بدن ل دوو برخو څخه جوړ شوی دی، چې یو یې ظاهري اسکلېټ دی، چې له مادي عناصرو څخه جوړ شوی دی، چې خوراک هم مادي دی، یعنې خوراک کول، اوبه څښل او شهوت پوره کول او دویم برخه یې روح ده، چې غېر مادي دی، چې خوراک غېر مادي یعنې مانوي دی لکه څنګه چې د روح حقیقت هر چاته معلوم نه دی، نو دا رنګه د روح غذا او خوراک چاته نه دی معلوم، پر ته له الله ج څخه نو الله ج په خپل قرآن کې ددې په اړه وايي، چې ما نه دي پیدا کړي پیریان او انسان، مګر د عبادت لپاره مې پیدا کړي دي او دا عبادت د انسان د ژوند اصلي مقصد او سعادت دی

## درې ګوني

په درې کارونو انسان سپکېږي او ناوړه برېښي:

١_ په دروغو ویلو.

٢_ په کنځلو او سپکو سپورو ویلو.

٣_ د ځان په ستایلو.

۴_ په تملق (غوړمالی او چاپلوسی).

خوله په درې کارونو ورانېږي:

١_ په سوال کولو.

٢_ په پېښنو کولو.

٣_ په مېړینې.

په درې شیانو زړه مه تړئ:

١_ په مال.

٢_ په عمر.

٣_ خپل کار د بل په تمه.

درې کسان ډېر ژر شرمېږي او خجالت سره مخ کېږي:

١_ دروغجن.

٢_ غوړمالي او تملق کوونکي.

٣_ له خپل حیثیت ځان لوړ ښودونکی او له وسه د پاسه کار ته وړاندې کېدونکی.

درې کسانو په خبرې باور مه کوه:

١_ د دروغجن.

٢_ د دښمن.

٣_ د احمق.





بي بي سي اردو ویبپاڼه

# د څارګرو ادارو (پټو ایجنسو) سره جګړه

ژباړه: ذبیح شفق

د امریکا مشهورې ورځپاڼې "واشنګټن پوسټ" یو رپورټ خپور کړی و، چې په هغې کې د څارګرو ادارو د پټو جګړو په اړه حیرانوونکي معلومات ورکړل شوي ول، چې موږ یې د زړه پورې والي له لامله له بي بي سي اردو ویبپاڼې څخه په مننې، پښتو ته ژباړو

رپورټ لیکي، چې تېر کال په اسلام اباد کې یو پاکستانی په اسلام اباد کې د امریکا څارګرې ادارې (سي ای ای) ته ورغلی و او پر هغوی یې د پاکستان د اتومي انرجی په اړه د معلوماتو د پلورلو هڅه کړې وه نوموړی ددې لپاره چې هغه ځان هغوی ریښتونی وښایي، نو ویلي یې ویل چې له هغه سره د سوځېدلې اتومي انرجی سکاره هم شته دي

رپوټ مخکې لیکي، چې C.I.A پر هغه باندې بد ګومانه شوه، نو له دې لامله یې د هغه په اړه پلټنې پیل کړې څه موده وروسته ور ته جوته شوه، چې د پاکستان استخباراتي اداره I.S.I د هغوی (C.I.A) پر خلاف د ډبل ایجنټ (دوه اړخیزه جاسوس) د کارولو هڅه کوي

CIA په دې اړه د پاکستان د څارګرې ادارې له چارواکیو سره اړیکې ټینګې کړې او د نوموړي په اړه یې ورڅخه بشپړ معلوماتو وغوښتل د پاکستاني ادارې چارواکیو ژمنه وکړه، چې تر بشپړو پلټنو وروسته به پایلې





CIA ته څرګندې کړي، خو څه موده وروسته دواړو ادارو په خوله مهر ولګاوه او غلي شول

رپوټ د تقاعد شویو استخباراتي مامورینو له خولې لیکي، چې له دې نه څرګندېږي چې امریکا د متحده ایالاتو او د ترهګرۍ پر خلاف له خپل لومړني دوست هېواد پاکستان ترمنځ څومره تاو تریخوالی دی په څرګنده خو امریکا د طالب یا القاعدې د کوم غړي په نیولو د پاکستان د پوځ او د څارګرې ادارې ستاینه کوي، خو په پټه د دواړو هېوادونو د څارګرو ادارو ترمنځ سړه جګړه روانه ده

رپورت کاږي، چې CIA ډېر ځله هڅه کړې چې د پاکستان د اتومي انرجی په اړه د معلوماتو راټولولو لپاره په ISI کې خپل جاسوسان وګوماري او یا یې په روپیو وپېري همداشان ISI هم هڅه کړې او کوي چې په قبآیلي سیمو کې د CIA د عملیاتو او نورو کړنو په اړه معلومات ترلاسه کړي همداشان دوی هڅه کوي چې په دې وپوهېږي چې CIA د پاکستان د اتومي پروګرام په اړه څنګه او څومره معلومات لري؟

رپورټ وايي، چې CIA د پاکستان په قبایلي سیمو کې د امریکا د څارګرو الوتکو (ډرون) د ښې نښې ویشتنې لپاره جاسوسان پیري رپورټ وایي چې د امریکا د متحده ایالاتو د پوځ دا بې پیلوټه څآرګره الوتکه له بلوچستان څخه پورته کېږي او پر قبایلو بمونه وروي

د پاکستان د څارګرې ادارې یو غړي، د نوم د نه څرګندولو په شرط وویل، چې د دواړو ادارو ترمنځ ښې اړیکې دي نوموړي دارد کړه، چې ګواکې دواړه ادارې د یو پل بر خلاف د ډبل ایجنټ (دوه اړخیزه جاسوس) کارولو هڅه کوي

رپورټ زیاتوي، چې د پاکستان استخباراتي اداره ISI پر CIA بد ګومانه ده، هغه ځکه چې د ولسمشر بش د لومړني دور پر مهال د پاکستان څارګرې ادارې له CIA سره معلومات شریک کړل، خو پاکستاني اداره هغه مهال زړه بدې شوه، چې کله دوی وپوهېدل چې CIA نوموړي معلومات د بریتانې له څارګرې ادارې سره شریک کړي دي

ددې پېښې له لامله د دواړو ادارو ترمنځ تاو تریخوالی زیات شو، چې له لامله یې د دواړو ادارو اړیکې ترینګلې شوې او ترمنځ یې د بې باورۍ فضا زیاته شوه خبره ان دې ته ورسېده، چې نږدې و پاکستان د سي ای ای





ستېشن ډایریکټر له هېواده وشړي

خو د ودواړو ادارو ترمنځ پر دې پېښو سربېره بیا اړیکې ښې شوې، خو د نوموړو ادارو ترمنځ اړیکې هغه وخت کړکېچنې شوې، چې په قبآیلي سیمو باندې د امریکا د څارګرو الوتکو بریدونه پیل شول د CIA ډایرکټیر لیون بنیټا وایي، چې د قبایلي سیمو جګړه د CIA لپاره د تاریخ تر ټولو سخته او ستونزمنه جګړه ده، چې د جاسوسی په ژبه دې ستغې سپورې سیمې ته (د شیشو صحرا) ویل کېږي، ځکه چې دلته چې څه تر سترګو کېږي، په ریښتوني هغه نه وي د CIA د القاعدې، طالبانو او نورو ترهګرو ګروپونو په اړه د معلوماتو راغونډولو لپاره د جاسوسانو په ګومارلو او پېرلو هڅه کوي او همدا کار ISI هم کوي، چې ډېر ځله دواړه ادارې هغه کس ګوماري، کوم چې بلې ادارې لا دمخه ګومارلی وي

رپورټ مخکې کاږي، چې CIA چې کوم جاسوس ګوماري، نو لومړی باید د هغه په اړه بشپړې پلټنې وکړي، چې هغه د چا پلوی دی، د CIA، د پاکستان د پوځ یا د هغه د استخباراتي ادارې او یا د CIA د دښمنانو؟

رپورټ د CIA د تقاعد شویو مامورینو له خولې لیکي، چې په قبایلي سیمو کې امریکا او څارګرې ادارې CIA ته د ورپېښو ستونزو یو لامل د نوې امریکایي ادارې ځوان او بې تجربې چارواکیو هم کېدای شي

پر امریکا د ٢٠٠١م کال تر بریدونو وروسته CIA د افغانستان و پاکستان پر پوله په قبایلي سیمه کې د جاسوسانو د ګومارلو لپاره نوي مامورین ولېږل هغوی په ناخبرۍ کې هغه خلک د جاسوسانو په توګه ونیول، چې له ډېرې مودې راهیسې د پاکستان له استخباراتي ادارې ISI سره یې کار کاوه

د CIA ډېرى تقاعد شوي مامورین په دې اند دي، چې تېر کال په خوست کې د CIA د اوو غړو د وژلو لامل همدا بې تجربې چارواکي ول CIA په دې اند وه، چې ګڼې د هغوی جاسوس به د القاعدې د دویم مشر ایمن الظواهري په اړه هغوی ته معلومات ورکړي، خو له برعکس هغه دوه اړخیز جاسوس وخوت او په خوست کې یې د CIA پر مرکز ځانمرګی برید وکړ، چې له لامله یې ٧ تنه ووژل شول

***

رپوټ: اداره

# په کونړ کې دوه نوې غوټۍ وغوړېدې

د کونړ ولایت د لیکوالانو په انګړ کې دوه نوې غوټۍ وغوړېدې، چې یوه یې "او تاله خوب درځي" او بله یې "ستا د لمبې لوښه" ده.

د ۱۳۸۹ کال د اسد د میاشتې په اتمه نېټه د کونړ ولایت مرکز اسدآباد د قبایلو د ریاست د غونډو په تالار کې د دوو شعري ټولګو د مخکتنې غونډه وشوه، چې یوه یې "او تاله خوب درځي" د عبدالحلیم همت او بله یې "ستا د لمبې لوښه" د اختر محمد مومند راټولونه او لیکنه ده. ددغې غونډې تابیا په اسدباد کې د "د یاران خپرندویې ټولنې" له خوا شوې وه.

غونډه په ماسپښین مهال دوه بجې د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه. راغلیو مېلمنو استاد محمد آصف صمیم، عبدالقیوم زاهد مشواني، عبدالحمید شورش او ګڼو نورو لیکوالانو خپلې مقالې ولوستې او همداشان ګڼو نورو لیکوالانو خپلې مقالې د موضوع اړوند رااستولي وې، چې د فرهنګیانو او دوستانو له خوا ولوستل شوې، چې ددغې برخې څخه د عبدالظاهر شکیب او عرفان الله کوټوال مقالې په دې ګڼه کې چاپ شوي دي.

همدا ډول دواړه لیکوالان په لفظي ډول ډېر زیات تقدیر شول او اغېزه او ارزښت یې د پښتو په فرهنګ کې د کونړ ولایت د فرهنګي بورډ له خوا خورا زیات وګڼل شو.

***





عرفان الله کوټوال

# د "تاله خوب درځي" د مخکتنې غونډه

تر ټولو دمخه راغلیو ښاغلیو او زړه ته نېږدې لیکوالانو، شاعرانو، ادیبانو او د ادب مینه والو ته د زړه له تله خپل سلامونه او پیرزوینې وړاندې کوم.

وروسته خپلو هم مشغله ورونو هر یو عبدالحلیم "همت" او اختر محمد مومند ته د "تاله خوب درځي" او "ستا د لمبې لوښه" د شعري راټولونې مبارکي وایم.

همدا شان له "باران خپرندویه ټولنې" څخه ډېره زیاته مننه کوم، چې د داسې یو ارزښتناک بنډار تابیا یې کړې ده او لا یې زموږ د هیلو کاروان خپل هدف ته خېر کړی دی.

د قدردانۍ له دغه کړۍ وروسته زه د عبدالحلیم همت د شعري ټولګې "او تاله خوب درځي" داسې ارزونه کوم:

۱: لومړی د حالاتو ددې پېچ و تاب پړاوونو سره سره دغسې هڅه د ادب د لارویانو لپاره نیک زېری ګڼم، چې زموږ لیکوالان خپل مسؤلیت ته متوجه کوي او ضمناً خپل ذوق هم پرې خړوبوي.

۲: د ټولګې د مخکتنې په تعبیر د همت صیب کتاب پوره یوه دیوان ته ورته دی، ځکه چې د موضوع له پلوه یې هر اړخیز نظمونه پکې راخیستي دي، چې له پیل څخه تر پای پورې یې کله د ثنا، کله روماني، کله ساندې، کله د هجران، کله هم کومېدي ډوله، کله حماسي او کله کله یې په اجتماعي ډول د خپل اند ښاپېرۍ الوزولې ده.

۳: د فورم له مخې زما په خپل تحلیل څه سپین نظمونه، غزلونه او زیات یې قطعې ته ورته زنځیري اوږده نظمونه پنځولي دي چې د پښتو ادب لپاره بې یوه اندازه ابتکار ته لمن وهلې ده.

۴: پیغام یې که څه هم په لفظي ډول





ساده، خو لږ پېچلی هم دی. په ځینو نظمونو کې لوستونکي تر یو څه ځنډ وروسته معنویاتو ته رسوي.

په مېنځ کې ښاغلي لیکوال لپاره یوه ننګونه، او هغه دا چې په یوه ډالۍ یې درې مقامه (هېواد، مور او پښتو) غولولوي دي.

۵: نومـوړي لیکوال او شاعر صاحب په تشبیهاتو کې په ابتذال پښه ایښې ده او د نادرو تشبیهاتو په لور یې ګام وهلی دی، لکه دغه بېلګه چې وایي:

داسې ګڼم لکه چې واړه کاینات شي زما
جانان چې کله غېږه راکړي په ما زور وکړي
او داسې ګڼې نورې بېلګې.

که څه هم د همت صاحب په فلسفي شاعرۍ باندې خبرې کول ډېر وخت ته ضرورت لري او د هرې ځانګړنې بیان یې په دومره لږ وخت کې ناشونی دی، نو په همدې ورې لیکنې بسنه کوو.

دا چې د دویمې شعري ټولګې د مختکنې حق ادا شي او نازولی ورور اختر محمد مومند به هم منتظر وي، چې د خپل زیار په هکله واوري، نو د خپل نظر په چوکاټ راځو "ستا د لمبې لوښه" ټولګې ته.

نومـوړې ټولګه سر تر پایه د غزل په فورم کې لیکل شوې ده، چې یوه ښه ورپکې د ترجیع هم په سترګو کېږي. د پیغام له پلوه د هجران تودو او سړو ډېر زوروللي دي، خو زیات ټینګا د پښتنو د در په دریو په حال، د توصیې ښه او د سولې په هیلو راڅرخېدلی دی. واقعاً تشبیهات، استعارې او کنایې زیاتې په زړه پورې دي او د بیان او معاني برخه یې نسبتاً ښه ده. د کلام ښه یې روانه او سلیسه ده، چې تقریباً زیات لوستونکي ترې په اسانۍ سره استفاده کولای شي.

ټول بدیعي صنعتونه او معنوي ارزښت یې د بېلګې په توګه لکه چې ښاغلي مومند صیب وایي:

*ای پښتنې محبوبې څنګ به دې رقیب ووینې*
*په خپلو وینو سور سالو دربانديې خور پروت یم*
*لکه شبنم چې په سرو شونډو د ګل وورېږي*
*داسې مې ځان په تا شیندلی په هر لور پروت یم*

د ستاینې او تحسین وړ دي.

د شعر د پیغام زیاته برخه یې روماني یا عشقي ده، چې پاتې نوره برخه یې د حماسي او اجتماعي یا ټولنیز حیثیت په لرلو سره، له پامه نشي غورځېدلی.

په پای کې د دواړه لیکوالو قلم تاند، عمر یې اوږد او د پښتو ادب د نثر لیکنې په برخه کې هم د دوی دقلم مټ ښه وهلی غواړم. د سیمې او هېواد ټول فرهنګي او ادبي شخصیتونه او په ځانګړې ډول د پښتو ادب لارویان دې، ښاد، اباد او سرلوړي اوسي.

***





# د ستورو کاروان

## د اوښکو سمندر

**نسیم ستوری**

دا پښتانه چې در په در ښکاري نن
د پښتونخوا زړګی پرهر ښکاري نن
د ژوند ائینه د بخت بازار کې ړنده
په وینو رنګ چې خړ خیبر ښکاري نن
د حسن باغ کې سره ګلونه مړاوي
په هره لاره چې محشر ښکاري نن
د وچو شونډو د پرهر سینې ته
موسکا ده ورکه ژړا سر ښکاري نن
لکه د زهرو ګوټ دی تېر به یې کړو
خوږو پرځای چې ترخه کر ښکاري نن
د ژوند محل مو نړېدلی ښېخ نه
دا کور او کلی مو کنډر ښکاري نن
د اعتبار لمن شلېدلې مو ده
په غلا به ګرځو چې خطر ښکاري نن
وطنه چا کړې د نظره راته
چې دې وران شوی هر ګودر ښکاري
د ځمکې روح ځیرې ګرېوان ګرځي بیا
بېلتون چې زور شو شور او شر ښکاري نن
زه نسیم ستوری به اوس تل زورېږم
ژوند چې د اوښکو سمندر ښکاري نن

## کونړ سیند

**زرلښت حفیظ**

د کونړ سیند یمه څپو کې لر او بر یادوم
زه یم خادم د خپل ملت پښتون ټبر یادوم

بیا د غني له شعر دیوان سره موجونه وهم
زه د ولي بابا ارمان اټک خیبر یادوم

لکه د باز بری به پورته کړي منګولو کې خپل
چې سره ټول کړي پښتانه سوله هنر یادوم

جرګه جرګه به شي د خان غفار مزاره پورې
د نارنج ګل میلې ته ځي تر ننګهاره پورې

سوله به بیا په خندا راشي دا جانان وطن ته
د تمدن کاروان سره د ملنګ جان وطن ته

بیا د نازو د ارمانونو میرویس خان به راشي
هم د حفیظ د ارمانو ښکلی دوران به راشي

**د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره**

# کبرجنه شهزادګۍ

## او سوالګر سندرغاړی

**ژباړه: اناهیتا روهي**

هغه وخت چې ما او تا سره نه پېژندل، يو پاچا و، چې يوه لور يې درلوده او ده ته ډېره ګرانه وه. شهزادګۍ ته خدای پاک بې انتها ښايست ورکړی و ځومره چې شهزادګۍ ښکلې وه، له هغې ځو واري زياته کبرجنه، مغروره او بد ژبې وه تل به يې په خلکو ملنډې وهلې او ځان به يې تر ټولو لوړ ګاڼه

يو وخت پاچا ځان سره فکر وکړ، چې اوس مې لور لويه شوې ده بايد چې واده وکړي او خپل ژوند ولري لرې او نږدې ټولو پاچاهانو، حاکمانو، درباريانو او نورو ډېرو معتبرو خلکو ته يې بلنليکونه ولېږل او خپلې ماڼۍ ته يې راوغوښتل پاچا خپلو مېلمنو ته وويل «زه غواړم چې لور مې واده وکړي داچې تاسو ټول دلته ياست، زما لور به ستاسو له منځه د خپل ژوند ملګری خوښ کړي»

رابلل شوي مېلمانه په قطار کې ودرېدل شهزادګۍ د هلکانو د ليدو لپاره سالون ته راننوته، لومړي هلک ته يې وکتل، وروځې يې سره کښته پورته کړې، ويې ويل «دا ځومره چاغ دی» دويم هلک ته يې وکتل، ويې ويل «دا ځومره اوږد او نری دی لکه سيخ» درېيم ته يې وويل «دې لويشتينکي ته ګوره» څلورم ته يې وويل «دا رنګ دې ولې سپين دی؟» پينځم ته يې وويل «دې ته وايې رنګ؟ تک سور» شپږم ته يې وويل «ته خو داسې وچ يې لکه لمر ته پروت لرګی»

په دې توګه يې هر يوه ته يو څه وويل او خپه يې کړل؛ خو د ټولو په منځ کې يو بل شهزاده و چې شهزادګۍ ور ته وويل «ستا مخ د هګۍ په شان اوږد دی او دا زنې ته دې ګوره لکه ماته مېښوکه»



پاچا چې د خپلې لور دا خبرې او حرکات وليدل، ډېر سخت خپه او په غوسه شو له لږ فکر وروسته يې د ټولو په مخکې خپلې لور ته وويل «تا د ډېرو ښکو خلکو سپکاوی وکړ اوس هر هغه سوالګر چې سبا سهار لومړی زموږ د ماڼۍ ور وټکوي، ته به له هغه سره واده کوې، دا ستا د اعمالو سزا ده»

سبا سهار يو سوالګر سندرغاړی د ماڼۍ د دروازې شا ته ودرېد او په سندرو يې پيل وکړ پاچا وويل «سوالګر سندرغاړی ماڼۍ ته راوغواړئ» سندرغاړی په خيرنو او شلېدلو جامو د پاچا مخې ته ودرېد او په لوړ اواز يې سندرې پيل کړې بادشاه ور ته وويل «ستا غږ او ستا سندرې مې دومره خوښې شوې، چې غواړم په ستاينه کې خپله لور در واده کړم»

شهزادګۍ هکه او حيرانه ودرېده؛ خو پلار يې ور ته وويل «ما د ټولو په مخ کې درته ويلي وو، چې ته به له هغه سوالګر سره واده کوې، چې سبا سهار زما د کور ور وټکوي او دا ستا د خپل غرور پايله ده» شهزادګۍ ډېرې پلمې وکړې؛ خو يوې خبرې يې هم ځای ونه نيوه په څو شيبو کې د






شهزادګۍ او د سوالګر سندرغاړي واده جوړ شو پاچا خپلې لور ته وويل «ته اوس د سوالګر ښځه شوې، ته ما سره نوره په ماڼۍ کې نه شې اوسېدی ستا د ژوند هر څه له همدې سوالګر سره دي»

سوالګر او شهزادګۍ دواړه روان شول تر ډېر مزل وروسته يوه ښکلي ځنګل ته ورسېدل شهزادګۍ له سوالګر نه پوښتنه وکړه «دا ښکلی ځنګل د چا دی؟» سوالګر په ځواب کې ور ته وويل «دا د هغه شهزاده دی، چې تا د ماتې مېښوکې نوم پرې ايښی و؛ که تا له هغه سره واده کړی وای، اوس به دا ځنګل ستا وای» شهزادګۍ وويل «هو کاشکې واده مې ورسره کړای وای»

دوی دواړه په لاره سترې او ستومانه روان وو، چې يوه ښکلي چمن ته ورسېدل د دمې لپاره هلته کېناستل شهزادګۍ بيا پوښتنه وکړه «دا څومره شين او پاک چمن دی دا د چا دی؟» سوالګر سندرغاړي وويل «دا د هغه چا دی، چې تا تر هر چا ډېرې ملنډې پرې ووهلې او د هغه په زنې دې د ماتې مېښوکې نوم کېښود که تا واده ورسره کړای وای اوس به دا هم ستا وای» شهزادګۍ په پښيمانۍ وويل «هو، کاشکې مې واده ورسره کړای وای»

دوی په لار کې له يوه ښار څخه تېرېدل شهزادګۍ وويل «دا څومره لوی او ښکلی ښار دی دا کورونه يې څومره ښايسته دي چې دا به د چا وي؟» سوالګر ور ته وويل «که تا واده ته هو کړی وای، اوس به دا هم ستا وای دا ټول د هغه شتمن شهزاده دي، چې تا ور ته وويل، چې مخ دې د هګۍ په شان دی» شهزادګۍ چې ډېره پښيمانه وه، ويې ويل «کاش چې ما دا کار نه وای کړی، اوس به دا هر څه زما وای اوس به زه هم شتمنه وای اوس به زه هم د يوه شهزاده ښځه وای»

سوالګر په غوسه ور ته وويل «دا کار زما نه دی خوښ؟ کاشکې له هغه سره مې واده کړی وای او کاشکې له ده سره مې واده کړی وای اوس زه ستا خاوند يم او ته زما مېرمن اوس پکې هغه او دغه نشته»

دوی په همدې خبرو کې وو، چې يو وړوکي او زوړ کورګي ته ورسېدل شهزادګۍ چې په ملنډو روږدې وه، په کبرجنه خندا يې وويل «دا څه رقم کور دی؟ دا دروازې ته يې ګوره، چې دا به د چا وي؟» سوالګر ور ته ځواب ورکړ «دا کور زما او ستا دی تر دې وروسته به زه او ته په همدې کور کې اوسېږو»

د کور دروازه ډېره ټيټه وه، شهزادګۍ په ډېره خوارۍ کور ته ننوته سوالګر ته يې وويل «مزدور ته ووايه چې ماته ډوډۍ تياره کړي، وږې يم» سوالګر ور ته وويل «دلته مزدوران نشته هر کار بايد پخپله وکړې اوس ته پاڅه، اور بل کړه، ماته د ډوډۍ او چايو تياری ونيسه چې زه هم وږی يم او هم ستړی»

شهزادګۍ په خپل ځای کې ولاړه وه او نه پوهېده، چې اور څنګه او په څه شي بل کړي؟

سوالګر ور ته وويل «ستا خو د اور بلول هم نه دي زده» بيا يې په خپله اور بل کړ او ډوډۍ او چای يې تيار کړل

دوی دواړو څو ورځې په هغې ډوډۍ تېرې کړې چې په کور يې درلودله بله ورځ سوالګر شهزادګۍ ته وويل «دا رقم خو ژوند نه کېږي زه او ته بايد دواړه کار وکړو، چې د خوړلو لپاره څه ولرو»

سوالګر له غره نه شهزادګۍ ته ميرزي راوړل او ور ته يې وويل «ته له دې نه ټوکرۍ جوړوه او زه به يې په بازار کې پلورم» شهزادګۍ هېڅکله هم ميرزي نه وو ليدلي او په دې هم نه پوهېده، چې ټوکرۍ څه ډول جوړېږي ميرزي يې واخيستل، تنکي لاسونه يې په ميرزو پرې پرې شول

سوالګر ور ته وويل «ته خو دا کار نه شې کولای زه به در ته د اوبدلو يوه څرخه راوړم ته له وړيو مزي او تارونه جوړوه او زه به يې په بازار کې خرڅوم کېدای شي دا کار به در ته يو څه اسانه وي»

خو د شهزادګۍ ګوتې ډېرې تنکۍ وې، د وړيو څېږو تارونو يې هم په ګوتو وينې راروانې کړې

سوالګر چې د شهزادګۍ وينې وينې ګوتې وليدې ويې ويل «زه خو چې تا ته ګورم، ته يو کار هم نه شې کولای تا سره ژوند کول هم ګران کار دی؛ خو دا ځل به تر ټولو اسانه کار درته پيدا کړم او هغه دا چې زه به تا ته خټين «کلالي» لوښي راوړم، ته يې په بازار کې خرڅوه» شهزادګۍ ور ته وويل «زه خو دا کار نه کوم که څوک مې په بازار کې وپېژني، دا خو ډېره د شرم خبره ده» د شهزادګۍ خبرو په سوالګر کومه اغيزه نه درلوده، هغه ور ته وويل «که غواړې چې ژوند وکړې؛ نو بايد چې کار وکړې او زحمت وباسې»

شهزادګۍ په بازار کې د خټينو لوښو په خرڅولو پيل وکړ، څو ورځې يې ښه ګوزاره وشوه بله ورځ سوالګر نوي لوښي ور ته راوړل شهزادګۍ له نويو لوښو سره بازار ته لاړه، په يوه ځای کې يې ټول لوښي د خرڅلاو لپاره سر په سر کېښودل

یو څو لوښي یې لا نه وو خرڅ کړي، چې یو سړی په اس سپور د بازار له منځه تېرېده، یو ناڅاپه یې اس په لوښو ورغی او ټول یې په یو خرپ مات کړل

شهزادګۍ په ژړا شوه، نه پوهېده چې څه وکړي بس همدا یې ویل چې زما خاوند به ما ته څه وایي همداسې په ژړا ژړا کې کور ته راغله او کیسه یې سوالګر ته وکړه سوالګر چې د شهزادګۍ اوښکې ولیدې نور هم په غوسه شو ویې ویل «په بازار کې ته وې او که زه؟ لوښي تا خرڅول که ما؟ اوس نو ژاړه مه زه خو چې تا وینم ته د هېڅ کار نه یې یو کار هم نه شې کولای؛ زه نن د خپل پاچا ماڼۍ ته تللی وم، هلته مې په اشپزخانه کې ستا لپاره کار پیدا کړی دی ته به هلته د کار په بدل کې ډوډۍ هم خورې او پاتې شونې ډوډۍ هم کور ته راوړې شې»

شهزادګۍ په اشپزخانه کې د اشپز سره په کار لګیا شوه هلته یې تر ټولو سخت او درانه کارونه کول، مازیګر به چې کور ته راتله نو اشپز به دوه دېګه په ملا وروتړل او پاتې شونې ډوډۍ به یې په دېګونو کې ورته واچوله شهزادګۍ به دېګونه خپل کور ته راوړل

شهزادګۍ په خپلو کړو وړو ډېره پښېمانه وه، هر ځل به یې افسوس کاوه، چې ولې مې په خلکو ملنډې وهلې؟ ولې مې دومره کبر کړی و؟ ولې مې دا فکر نه کاوه چې کېدای شي، څوک به زما په خبرو خپه شي

څو وخته وروسته د پاچا د مشر زوی واده و شهزادګۍ په اشپزخانه کې ډېر کار کړی و، ډېره ستړې وه، خپل د ډوډۍ دېګونه یې په ملا وتړل او کور ته د تلو نیت یې وکړ لا تللې نه وه چې ځان سره یې وویل «قسمت ته ګوره کنه اوس به زه هم د دې خلکو په منځ کې وای تر ټولو به مې ښکلي کالي اغوستي وای او تر ټولو به ښکلې ښکارېدم؛ خو اوس به د پردې له شا وګورم، چې څوک راغلل او څنګه ښکاري؟»

دویم پوړ ته وختله د سالون د پردې تر شا یې پټ پټ هغه مېلمانه کتل، چې ښکلي او قیمتي کالي یې اغوستي وو او ګډېدل په خپل حال یې زړه ډېر خوږېدلی و، سترګې یې له اوښکو ډکې وې

خپل دېګونه یې راسم کړل،





غوښتل یې چې خپل کور ته لاړه شي، چې تر شا یې یو شهزاده ولاړ ولیدو شهزاده وریښمین کالي اغوستي و، د سروزرو غاړه یې په ټټر زنګېدله شهزادګۍ سخته ووېرېده، غوښتل یې منډه کړي، چې شهزاده له لاسه راونیوه او ورته ویې ویل «ښکلې سوالګرې زه غواړم چې ته له ما سره ونڅېږې» شهزادګۍ خپل لاس راکش کړ او چې شهزاده ته یې وکتل نو دا هماغه شهزاده و، چې دې د ماتې مښوکې نوم یې پرې ایښی و

شهزادګۍ هڅه کوله چې له شهزاده نه ځان خلاص کړي او وتښتي؛ خو کامیابه نه شوه د دوی په همدې کشمکش کې د شهزادګۍ له ملا نه دېګونه راولوېدل او د سالون په دروازه کې نسکور شول ټول مېلمانه ځای پر ځای ولاړ وو او ځینو په لوړو اوازونو خندل شهزادګۍ له شرمه تکه سره اوښتې وه، په زړه کې یې دعا کوله چې کاش دا ځمکه نیمه شي او ما د ننه کړي

بیا یې منډه کړه خو لا زینو ته نه وه رسېدلې، چې شهزاده له مټو راونیوه، ورته ویې ویل «مه ډارېږه، مه تښته هغه سوالګر سندرغاړی، په بازار کې په اس سپور هغه سړی، چې ستا ختین لوښي یې مات کړي وو، د بادشاه په اشپزخانه کې اشپز او اوس دغه شهزاده چې ستا مخ ته ولاړ دی، دا ټول زه وم هغه څوک چې تا د ماتې مښوکې نوم پرې ایښی و

ما چې ته د لومړي ځل لپاره ولیدې، خوښه مې شوې مګر کله چې مې ستا کبر ولید نو ځان سره مې وویل «ته به زما شې خو بې له کبره» او دا کار مې ستا د پلار په مصلحت کړی و

شهزادګۍ په ژړا شوه او ویې ویل «تاسو ډېر مهربانه یاستی؛ خو زه ستاسو وړتیا نه لرم» شهزاده ورته وویل «ته مخکې هم زما مېرمن وې او اوس به هم زما مېرمن یې؛ خو زه غواړم چې ته په دې ماڼۍ کې له ما سره نوی ژوند پیل کړې»

څو تنه ښځې راغلې، شهزادګۍ یې له لاسه ونیوه او له مینځلو وروسته یې د ناوې په کالیو کې سالون ته راوسته شهزاده او شهزادګۍ له سره واده وکړ او په خوشحالۍ یې خپل ژوند پیل کړ

مور د دوی له واده وروسته سره وپېژندل زمور د پېژندلو خوښي د دوی د واده له خوښیه کمه نه ده

***





# د افغانستان د ملي موزیم لنډه پېژندنه

ولي شاه طبیب

انسانانو په نړۍ کې د خپل پیداښت له سباوون سره د خپل ژوند د دوام لپاره د خوراک، څښاک، پوښاک او استوګنځي په برخه کې اقدام وکړ او په دې ټولو برخو کې یې لومړني افزار، وسایل او لوازم جوړ کړل همداراز دوی لومړني هنري آثار په تیرو کې تصویرونه د تېر. توږنې له لارې ګټین ښیزونه او بیا اوسپنیز، خاورین، لرګین ښیزونه جوړ کړل او ورو، ورو صنایعو وده وکړه او د دوی ژوند پرمخ ولاړ د پرمختګ په دوره کې انسانانو دې ته توجه وکړه، چې د خپلو تېرو شویو نیکونو د لاس نښې خوندي کړي او په خوندي ځایونو کې یې وساتي او همدا وخت و، چې د موزیمونو جوړولو ته اړتیا پیدا شوه

د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې تر ټولو لرغونی موزیم هغه مصری موزیم دی، چې له نن نه دوه زره درې سوه کاله وړاندې د بطلیموس په وسیله د مصر په اسکندریه کې جوړ شوی و، تر دې وروسته د اشخاصو په وسیله د لرغونو اثارو ټولولو دوام وکړ، خو د شپاړسمې پېړۍ په اواخرو کې د لرغونو آثارو مینه وال ډېر زیات شول او پانګه والو د ځانونو لپاره زړو آثارو او شخصي کلیکسیونونه جوړ کړل او بیا ځینې دا ډول کلیکسیونونه په موزیمونو واوښتل تر اوولسمې پېړۍ راوروسته د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په سوونو موزیمونه جوړ شول، چې ځینې یې نړېوال شهرت لري، لکه د فرانسې د لوور موزیم، د لندن برټش موزیم، د نیویارک عمومي موزیم، د مصر فرعوني موزیم، د لاهور موریم، د





کراچۍ موزیم، د ایران ملي موزیم، د هند ملي موزیم او داسې نور

افغانستان چې د انسان د لاس پنځوس زره کلنې نښې پکې دي، تراوسه یې ډېرې برخې لا ناسپړلې پاتې دي او تراوسه یې ډېر تاریخي آثار لا د ځمکې په زړه کې دي له افغانستان نه لېږدونکي آثار له زر کلونو راهیسې خلکو پېژندل او ننداري به یې کېدلې، لکه د بامیانو ۳۵ متره او ۵۳ متره بودایي مجسمې، چې له څه کم دوه زرو کلونو راهیسې یې بهرنیو او کورنیو نندارچیانو ننداره کوله، چې څو کاله وړاندې د تعصب، وروستو مغزونو او د وحشت کرغېړنو لاسونو په باروتو او بمونو له بېخه راونړول او یا د بلخ، هرات، غور، کندهار، ننګرهار، سمنګان، غزني، هلمند او نورو ولایتونو مجسمې او نور لرغوني آثار

په ۱۹۱۹ کال د افغانستان د خپلواکۍ تر لاس ته راتلو وروسته د پرمختګ د نورو کارونو د پیلېدو ترڅنګ د ملي موزیم جوړولو کار هم پیل شو، د افغانستان د اساسي تشکیلاتو او د پوهنې وزارت په نظامونو کې ددې وزارت په تشکیلاتو کې د حفریاتو او موزیم ماموریت رامنځ ته شو، دې اداري دنده درلوده چې له فرانسوي هیات سره د شوي تړون له مخې هغه آثار، چې د افغانستان برخه ده خوندي کړي، تنظیم یې کړي او په موزیم کې یې ننداري ته وړاندې کړي تړون فرانسویانو ته حق ورکاوه، چې له دوو سره ورته او مشابه آثارونه یو یې فرانسې ته ولېږدوي

د افغانستان ملي موزیم په ۱۲۹۷ کال د باغ بالا په ودانۍ کې د عجایب خانې په نامه جوړ شو، چې لومړی ځینې زاړه حربي وسایل، د جهاد بېرغونه، لاسي کارونه، د قرآن کریم او تفسیر خطي نسخې او نادر کتابونه پکې راغونډ شوي وو، خو شپږ کاله وروسته دا آثار له باغ بالا نه د ارګ د باغچې کوټې ته راوړل شول، نور آثار یې ورسره یوځای کړل او د ۱۳۰۳ کال د لړم په ۲۵مه نېټه په داسې حال کې، چې د پوهنې وزیر فیض محمد خان او د باندنیو چارو وزیر علامه محمود طرزي د موزیم په ارزښت او د تاریخي آثارو د ساتلو په ګټو وپناوې وکړې، د اعلیحضرت غازي امان الله خان له خوا رسماً پرانیستل شو او د وخت لویانو ډېر قیمتي شیان موزیم ته د سوغاتونو په توګه ورکړل

د ۱۳۰۷ کال په کورني اړو دوړ کې د موزیم یو شمېر مجسمې د امیر حبیب

الله کلکاني په امر ماتې، یو شمېر آثار يې چور او يوه برخه يې پاتې شول د هېواد تر نجات وروسته په موزيم کې پاتې آثار په دارالامان کې په يوه ودانۍ کې تنظيم شول او له دې سره موزيم په ښه ډول ترتيب شو، آثار يې په تاريخي دورو ووېشل شول او د سکو، مجسمو، ډبرليکونو او نورو لپاره بېلابېلې خونې وټاکل شوې او د کابل موزيم نوم پرې کېښودل شو

په ۱۳۳۶ کال کې موزيم له يونسکو سره تړون وکړ او کابل موزيم د نړېوالو نورمونو په رڼا کې له سره تنظيم شو او هم د موزيم ګڼ آثار په نړېواله توګه ثبت شول په ۱۳۵۳ کال کې موزيم نور هم انکشاف وکړ او خاصه توجه ورته وشوه، د موزيم تر جوړېدو وروسته د هېواد له بېلابېلو برخو نه تاريخي آثار کابل موزيم ته راوړل شول او هم په ځينو ولايتونو کې منقول او غېر منقول موزيمونه جوړ شول لکه په غزني کې يو منقول او بل د سردار غونډۍ غېر منقول موزيم، د کندهارموزيم، د هرات موزيم، د ميمنې موزيم، د بلخ موزيم، د باميان غېر منقول موزيم، د ننګرهار د هډې غېر منقول موزيم او ځېنې نور واړه واړه موزيمونه د کابل د ملي موزيم زيانونه هغه وخت پيل شول، کله چې شوريانو د وژلو ځای ته د حفيظ الله امين د لېږلو پرېکړه وکړه امين ته يې ووېل، چې موزيم له دارالامان نه ارګ ته راوړي او دی له ارګ نه دارالامان ته ولېږي، د موزيم ډېر نفيس او قيمتي آثار په ډېر بېړني ډول بې ځايه شول، چې په دې ترځ کې يو شمېر نفيس اثار مات شول او يو شمېر قيمتي آثار غلا شول

د نجيب د حکومت پر وخت موزيم بېر ته په دارالامان کې خپل پخواني ځای ته نقل شو، خو دده تر سقوط وروسته د تنظيمي جګړو په دوران کې له بهرنيو قاچاقبرانو سره په سلا د کابل ملي موزيم چور او د تاريخ دغه زړه خونه تالا والا شوه د ولاياتو اکثره منقول او غېر منقول موزيمونه چور شول، څه مجسمې چې پاتې وې د هغوی يوه لويه برخه د طالبانو په دوره کې له منځه يووړل شوه د طالبانو تر ماتې وروسته د ملي موزيم ځينې غلا شوي آثار بېر ته هېواد ته راوړل شول او ځينې نور يې هم لا تراوسه په يو شمېر هېوادونو کې شته، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت يې د ډيپلوماټيکو لارو څارنه کوي





# د تخلص ټاکل

فضل قادر انډيوال /پېښور

په ادبي ډګر کې زياتره ليکوال د ځان لپاره د تخلص نوم غوره کوي، چې په ادبي بنډارونو کې په دغه خپل ټاکلي تخلص ياديږي د وخت په تېريدو سره دغه نوم دومره عام شي، چې په ځينو وختونو کې په اصلي نوم بيا څوک نه پيژندل کيږي د نړۍ د اديبانو او ليکوالو سربيره افغان اديبان، پوهان، او سياستوال د خپل ار (اصل) نوم سربيره تخلص هم ږدي دا وه لنډکۍ سريزه اوس به راشو د تخلص معنا ته او يو ځل به دغه ويی (لفظ) او کلمې ته لږځير شو تخلص عربي کلمه ده، چې په صرفي مصادرو کې د تفعل باب مصدر دی، لغوي مانا يې خالص کول او ځانګړي کول دي

په اصطلاح کې پور ته نغوته ور ته وشوه په او سمهال کې چې زمونږ ځوان کول د استعداد خاوند کيږي او طبعآد ځان لپاره تخلص غوره کوي، نو بايد ښه فکر وکړي، چې د نوښت له مخې ښکلی او تلپاتی تخلص ومومي او له ده څخه وړاندې د بل چا نه وي، ځکه، چې تخلص په دې دلالت کوي، چې دغه نوم د همدغه دی، چا چې د ځان لپاره غوره کړی دی اوس به د تخلص يو څو ډولونه دروپيژنو

۱ مرکب تخلص لکه رشيد افغان، علي صبا، اباسين يوسفزی او داسې نور

۲ قومي تخلص چې تخلص خپل قوم پورې وتړي لکه مومند، شينواری داودزی، خوږياڼی

۳ سيمه ييز تخلص د دغه تخلص نسبت يوې سيمې ته کيږي لکه کوټوال، حصارشاهيوال، رودوال، مزينه وال، حصارک وال، خوستوال،





پکتياوال

۴ کورنی تخلص دغه تخلص په يوې کورنۍ پورې ځانګړی وي، چې بيا په دغه کورنۍ کې چې څومره د استعداد خاوندان راځي نو نسبت يې همدغه کورنۍ ته کيږي لکه د مجدیدي، ګيلاني، او جيلاني، چې د مجددي نسبت مجددالف ثاني او د ګيلاني يا جيلاني نسبت شيخ عبدالقادر جيلاني ته کيږي

۵ پلار ته نسبت ځينې خلک د خپل پلار نوم د ځان لپاره تخلص وګرځوي او يواځې د زوی کلمه ورزياته کاندي، لکه ګلاب زوی او سرورزوی او کله د پلار نيمګړی نوم د ځان لپاره تخلص غوره کړي لکه صميم د صميم الله او نظامي د نظام الله څخه اخيستل شوی دی

۶ د خپل نوم جز ځينې وګړي د خپل اصلي نوم يوجز يا پوره برخه د ځان لپاره تخلص ګرځوي لکه افسر علي افسر، عابد الله عابد، سيد صابر شاه صابر او نجم الدين نجم

۷ ځينې بيا د خپل پلار تخلص ځان لپاره غوره کوي لکه ډاکټر خوشحال تسل، چې د خپل پلار محمد عارف تسل څخه يې تسل غوره کړي

۸ ځينې ليکوال د ځان لپاره تخلص په خپله غوره کوي چې بيا يې عام وګړي په خپل غوره کړي تخلص پيژني، چې دغه وګړي د فلانۍ کورنۍ څخه شمېرل کيږي لکه رفيع، زيار، صميم، شپون که له دوي څخه وروسته په دغه ادبي کورنيو کې هر څومره د استعداد ځوانان ډګر ته راځي، نو په همدغه تخلص به ياديږي، چې دې ډول تخلص ته شخصي تخلص هم ويل کيږي

۹ ځينې خلک بيا د خپلو قوميزو، سيمه ييزو، کورنيزو او شخصي تخلصونو څخه سرغړونه وکړي او د ځانونه لپاره نوي تخلصونه غوره کاندي، چې دوی ته بيا هم دغه ازادي شته، چې د ځان لپاره نوی تخلص غوره کړي خو بايد دومره فکر وکړي چې د بل چا په تخلصونو باندي تېرې ونه کړي او له نوښته کار واخلي

۱۰ يو بل صورت هم شته چې زه يې يادښت اړمن او لازمي بولم او دغه ناجايز صورت دی، چې هر څوک بايد ترې ځان وژغوري هغه دا چې ځينې خلک د ځينو مشهورو اشخاصو تخلص د ځانونو لپاره غوره کوي او يا په ځينو ورځپاڼو او جريدو کې چې يې د چا تخلص خوښ شي، نو د ځان لپاره يې وټاکي چې دغه ښه کار نه دی او زه يې





ښه نه انګيرم، ځکه په دې سره د ځينو مشهورو اشخاصو څخه ناوړه ګټه پور ته کيږي او د هغوی مشهورو او غيرو مشهورو شخصيت باندې هم يو ډول ناوړه اغيزې شيندي او په بهر کې به عام لوستوال دا ګومان کوي، چې دغه شخص د فلانۍ مشهورې کورنۍ څخه دی او په اصل کې به له هغې څخه نه وي اوسمهال د نورو تخلص کېښودل که مشهور وي او که نه، خو په ځان باندي کيښودل يې زيات دي او دغه دود زمونږ په اوسني ځوان کول کې ډير زيات عام شوي او په يو تخلص دومره ليکوالان ليدل کيږي چې خپل اصلي نوم ورسره ياد نه شي نو څوک يې نه پيژني

زه به يې د بيلګې په ډول د يو څو ليکوالو نومونه راواخلم او هيله من يم چې څوک راڅخه خپه نه شي

سيار

فضل الرحمن سيار، فياض الرحمن سيار، اسماعيل سيار، عطا الحق سيار، وجيهه سيار، ساکب سيار، نصير سيار

همدرد

رييس خان همدرد، تلاوت شاه همدرد، شفيق همدرد، شادمحمد همدرد، شاه محمد همدرد، شيرمحمد همدرد، شيرشاه همدرد، محمد عارف همدرد، همايون همدرد

سباوون

وحيدالله سباوون، قاضي سيد اختيارسباوون، اجمل سباوون، حميد سباوون

همکار

ګل ملا همکار، ابراهيم همکار، نورالله همکار

عادل

نورمحمد عادل، نيازمحمد عادل، لياقت عادل

مطمين

مولانا عبدالشکور مطمين، عبدالحی مطمين، نظر محمد مطمين

عابد

بازمحمد عابد، امتياز احمد عابد، مطيع الله عابد او بيا مطيع الله عابد، زمرک عابد عبدالمقيم عابد، فضل سبحان عابد

ما د زيار په نامه تخلص يوازې د ډاکټر مجاور احمد زيار پيژندو، چې د ډير پخوا راهيسې يې دغه نوم د ځان لپاره غوره کړی و خو اوس د ډاکټر عبدالخالق زيار او جان اغا زيار په نامه نور ليکوال دلته په پښتونخوا کې شته چې زما په اند کيدی شي، چې دغه تخلص يې د ډاکټر مجاور احمد زيار

ځخه اخیستی وي ،څکه چې نه ورسره د خپلولۍ څه رشته لري او حتا چې د سیمې یې هم نه دي ، زمونږ لیکوال او شاعران او بیا په ځانګړي ډول د استعداد خاوندانو ته ښایي ، چې د خیال او شعري نوښت سره سره په خپلو تخلصونو کې هم ښکلی او اساسي نوښت وکړي د مثال په ډول که تاسو په ځله کې ګلابونه نومي کتاب وګورئ ، هغوی ځوانانو د شعري نوښت سره یې په تخلص کې هم ښایسته په زړه پوري نوښت کړی ، چې د ستاینې وړ دي لکه اند ، پرتم ، پرهر ، څار ، ځواب ، رودوال ، او خوبن ، دغه پورتني ګرد جایز صور تونه دي چې لیکوال یا د استعداد خاوند کولی شي ،چې په دې رڼا کې د ځان لپاره تخلص غوره کړي

په پای کې هغه کسانو ته وړاندیز کوم د کومو کسانو چې مشران وي او یا یې کورنۍ د پخوا راهیسې یو تخلص غوره کړي وي او دنورو سره هم نامي وي ،نو کشران دې هغه تخلصونه ،چې تري پټ کړي یې وي بدل کړي او مشران دې پرې پاتې شي

❋❋❋

## پاچا او عالم سړی

ژباړه: ذبیح شفق

یوه ورځ یو باچا پر لار روان و، یو عالم سړی یې ولید، چې په یوه لوړ ځای ناست دی او ژړا فریاد کوي

باچا ترې وپوښتل

ای ښاغلیه ولې ژاړې؟

عالم ځواب ورکړ

زه د خدای او د هغه د بندګانو ترمنځ سوله کوم، الله جل جلاله یې مني، خو د هغه بنده ګان یې نه مني

پاچا سر وخوځاوه او ترې روان شو

بله ورځ پاچا پر سفر روان و، د لارې په اوږدو کې د یوې ادیرې ترڅنګ تېرېده، هماغه عالم سړی یې ولید، چې په ادیره کې د قبرونو ترمنځ ناست دی او په ژړا فریاد یې رااخیستی دی

پاچا نږدې شو او پوښتنه یې ترې وکړه

ای ښاغلیه ولې ژاړې؟

عالم ځواب ورکړ

زه د الله جل جلاله او د هغه د بنده ګانو ترمنځ سوله کوم، خو دا ځل خبره اپوټه ده دا بنده ګان چې په قبرونو کې پراته دوی خو زما مینځګړ توب مني، خو الله جل جلاله یې نه مني هغه ورځ چې دوی ژوندي ول، زما خبره یې نه منله او د الله جل جلاله له حکمونو یې سرغړونه کوله، نن چې تر تورو خاورو لاندې شول، نن زاری فریاد کوي، خو الله ج یې نه مني

❋❋❋





# د افغانستان د پښتنو کمزوري کول خطرناک دي

لیکوالې: هیلینا ملکیار او تانیه ګودسوزیان

ژباړه: بشیر ګواښ

په تیر سپتمبر کې افغان سیاست والو هغه وخت د افغانستان په پارلیماني انتخاباتو کې د درغلیوو خبرې شروع کړې چې د دې هیواد د انتخاباتو خپلواک کمیشن د رایې اچونې له زرو زیات مرکزونه وتړل، د رایو شل بکسونه یې ناقانونه او ۲۱ ټاکل شوي چارواکي یې نا اهله وګرځول که له یوې خوا د دې ټاکنو ناکامه کاندیدانو د درغلیوو په اړه لاریونونه پیل کړي، له بلې خوا په دې خبره ډیر لږ بحث شوی چې د یو شمیر لاملونو له امله پارلیمنټ ته ډیرو لږو پښتنو لاره موندلې دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان پښتنو په هیواد کې له سلګونو کلونو راهیسې د واک ډیره برخه درلودلې .

د پښتنو په سیمو کې د یاغیانو له خوا د نوو خلکو د ګمارنو هڅو ته په کتنې سره ویلی شو چې دا ډیره خطرناکه خبره ده چې قومي انډول دې ونه ساتل شي او د پښتنو رول دې کم کړل شي ډیر شمیر پښتنو سیاست والو د افغانستان د انتخاباتو د کمیشن له خوا د پښتنو په سیمو کې د د رایې اچونې د مرکزونو د بندولو، د رایو د صندوقونو د ناقانونه او کاندیدانو د نا اهله ګرځولو پریکړې د اساسي قانون خلاف بللي .

د افغانستان د ټاکنو د قانون له مخې د انتخاباتو کمیسون باید د رایو شکمن بکسونه قرنطین او بیا د دغو بکسونو رایې د کاندیدانو په مخ کې وشمیرل شي خو د افغانستان د ټول ټاکنو





خپلواک کمیسون د رایو دیارلس میلیونه بکسونه باطل اعلان کړل په قصدي ډول د دې کار د ترسره کوونې له امله ډیر شمیر افغان حقوق پوهان د دې پارلیماني ټاکنو نتیجې ناقانونه ګڼي په کابل کې د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې استازو د ټاکنو پایلې منلي چې دا تمه ترې نه کیده افغان ولسمشر حامد کرزی اوس په یو عجیب حالت کې قرار لري که څه هم نوموړي په پارلیمنټ کې خپل ډیر ملګري ځای پر ځای کړي خو هغه د خپلو پښتنو ملاتړو د غصې سره مخ دی د ولسمشر کرزي له خوا ټاکل شوی د افغانستان لوی څارنوال محمد اسحق الکو هم د انتخاباتو د نتیجو په اړه شور جوړ کړی او ویلي یې دي چې نتیجې د پیسو دارو له خوا اخیستل شوي او پلورل شوي بل خوا ته د افغانستان د انتخاباتو د کمیشن مشر فضل احمد معنوي دا تورونه رد کړي او د ولسمشر کرزي د دفتر په بې ابیا ویلو سره یې هم د ټاکنو نتیجې له خپرولو ونه درولې .

فضل احمد معنوي د پنجشیر تاجک دی او د ولسمشر کرزي سره په تیرو ولسمشریزو ټاکنو کې د سیال کاندید عبدالله عبدالله ملګری دی معنوي په تیرو ولسمشریزو انتخاباتو کې د عبدالله عبدالله سره د یوې معاملې له مخې د انتخاباتو د کمیسون مشر وټاکل شو همداراز د عبدالله عبدالله د بدلون او امید په نامه تحریک چې ځان د حکومت اپوزیشن ګڼي ، یو بل غړي احمد ضیا رفعت ته د انتخاباتو د شکایاتو د کمیسون د پنځوو څخه د یو کمیشنر او وپاند په توګه یو قوي رول وروسپارل شو که څه هم دا تورونه لا ثابت شوي نه دي خو د معنوي په مشرۍ د افغانستان د انتخاباتو په کمیشن دا تور پورې دی چې د پښتنو په سیمو کې یې د یو سیاسي پلان له مخې د ناامنیوو د شتون په بانه د رایوو مرکزونه وتړل او د احمد ضیا رفعت په مشرۍ د انتخاباتو د شکایتونو کمیشن د پښتنو کاندیدانو لپاره اچول شوي په لسګونو زره رایې باطلې وګرځولې د بیلګې په توګه په غزني ولایت کې چې ډیر وګړي یې پښتانه دي یوولس کسان بریالي شوي چې ټول هزاره ګان دي او دا څکه چې په دې ولایت کې د پښتنو نهه ولسوالۍ ناامنه وګڼل شوي او هلته د رایو اچوونې مرکزونه بند کړل شول بله بیلګه د بغلان ولایت ده





چیرته چې د انتخاباتو کمیسون د امنیت د نه شتون په نامه د رایوو ډیر شمیر مرکزونه وتړل چې په دې ولایت کې یې د ټاکنو نتیجې په مهمه توګه بدلې کړلې او له بغلان څخه یوازې یو پښتون کاندید پارلیمان ته لار پیدا کړه .

په افغانستان کې هزاره ګان چې پخوا یې د اقلیتونو د لېسټ په آخري برخه کې ځای درلود، اوس د یو منظم سیاسي قوت په توګه راڅرګند شوي دوی په شمیر کې لږ دي او په خپلو ما ءنو کې هم په ډیرو خبرو سره سلا نه دي خو په ډیره ماهرانه توګه یې خپل کاندیدان پارلیمنټ ته ورننویستي .

تاجکانو د عبدالله په مشرۍ د بدلون او امید په نامه تحریک په ښه توګه د ځان په ګټه کارولی دا تحریک وایي چې نیږدې یو سل او دیرش غړي یې په پارلیماني ټاکنو کې بریالي شوي له بلې خوا پښتانه د یو موټي سیاسي مرکز په جوړولو نه دي بریالي شوي او بده یې لا دا چې پښتون ولسمشر حامد کرزي په ارادي توګه د پښتنو سیاسي مشران ، د هغوی په منځ کې د درځونو په جوړولو سره په دې خاطر کمزوري کړي چې خپل مقام وساتي .

داسې ښکاري چې نړیوالو چې د دې سیاسي خوځون لپاره په افغانستان کې په میلیونونو ډالر لګولي ، په دې بسنه کړې چې په دې هیواد کې یې د انتخاباتو کولو ته لار هواره کړه دوی باید په دې خبر وي که په افغانستان کې قومي ستونزې زیاتې شي نو افغانان به لا نور دردمن شي پښتانه داسې قوم دی چې زر عکس العمل نه ښئ خو چې که یې هم وښئ نو هغه بیا لکه د نوح د طوفان په شان وي که په افغانستان کې قومي شخړې زیاتیږي نو د دې کار پایله به داشي چې افغانستان به د نویمو کلونو په شان یوځل بیا د القاعده د غړو په مشرۍ په یو ناقانونه هیواد بدل شي امریکا، د دوی غربي اتحادیان او افغان سیاست وال باید پخپله دا غوره کړي چې آیا دوی په ریښتیا سره غواړي مشري وکړي او که نه ، غواړي د ناکامۍ په لور لاړ شي

# په کابل کې د کونړ مېشتو ولسونو د یووالي د شورا له رییس او د خاص کونړ له اوسېدونکي

## محترم انجنیر ګل اغا "حسني" سره مرکه

ادا‌ره

*پوښتنه: محترم انجنیر ګل اغا "حسني" اورېدل کېږي، چې په دې وختونو کې تاسې په کابل کې د کونړ مېشتو ولسونو د یووالي شورا جوړه کړې ده، آیا کولای شئ ووایئ چې ددغه شورا د جوړېدو موخې څه دي؟*

ځواب نحمده نصلی علی رسول الکریم اما بعد

د هرڅه نه مخکې زه خپل سلامونه او احترامات د ستوري مجلې کارکوونکیو، چلوونکیو او لوستونکیو ته وړاندې کوم او محترم خدای بخښلي ستوري صیب ته له الله ج له دربار څخه د جنت فردوس او کورنۍ ته یې د صبر جمیل غوښتنه کوم

تاسې پوهېږئ، چې د کونړونو ولایت یو سرحدي او غرنی ولایت دی، چې د افغانستان په شمال ختیځ کې موقیعت لري غرونه یې په ځنګلونو پوښلي دي او د قیمتي کاڼو او عناصرو لرونکي دي دا ولایت که له یوې خوا د نفوس په نسبت ډېره کمه زراعتي ځمکه لري، چې مقدار یې د شل زره هکتاره په حدودو کې تخمین شوی، له بلې خوا یې اوسېدونکي د علم او پوهې پلویان او ورونه قومونه یې د یووالي، وحدت او








ورور ګلوی غوښتونکي او خوښوونکي دي

له بده مرغه تېرو درې لسیزو جنګ جګړو کې یې نه دا چې مادي او معنوي تاوانونه وګالل، بلکې د ځان ځانی په مرض هم اخته شول د کلیو قومونو او قبیلو ترمنځ فاصلې زیاتې شوې، په دې اساس د کونړونو ولایت مربوطو مشرانو علماء کرامو متنفذینو، جهادي شخصیتونو او روڼ اندو دا وټپیله، چې د ټولو ستونزو د حل یواځینی لار وحدت او یووالی دی باید د ورونو قومونو د یووالي شورا جوړه کړي هغه و چې د ۱۳۸۸ م کال د عقرب په ۲۱مه نېټه د پنجشنبې په ورځ په کابل کې د افغانستان په نوین هوټل کې د کونړونو ولایت د اداري ۱۵ واحدونو څخه ۴۰۰ کسانو، چې د هر واحد اداري څخه ۲۰ کسان انتخابي او باقي ۱۰۰ کسانو د متنفیذنو مشرانو او وکیل صاحبانو په نوم ګډون وکړ، چې په نتیجه کې د انتخاباتو له لارې ۸۷ کسیزه مرکزي شورا جوړه او بیا د هغوی ترمنځ ازادانه، شفاف او بې طرفه انتخابات وشول، چې په نتیجه کې یو رییس، درې معاونین او منشي وټاکل شو

دا شورا ۱۸ کسیزه مدیره هئیت او د مالي تشکیلاتو ځوانانو ښځو او اړیکو کمیسونونه درلودونکي دي دا شورا به د کابل ښار په محدوداتو کې نه پاتې کېږي، بلکې وظیفه لري، چې د کونړونو ولایت مربوطه اوسېدونکیو سره خپلې رابطې کلکې او د موجوده ستونزو د حل لپاره ګډې هلې ځلې وکړي، ترڅو په دویم قدم کې د شرقي زون د یووالي او وحدت سبب وګرځي، چې په مجموعه کې د افغانستان ملي وحدت په ټینګښت کې اغېزمن رول ولوبوي

*پوښتنه: په دې شورا کې کومو قومونو برخه اخیستې؟*

ځواب په کابل کې د کونړونو ولایت مربوط ټول مېشت ورونه قومونه، پرته له کوم امتیاز په دې شورا کې برخه لري

*پوښتنه: په تېرو درېو لسیزو کې د*







*کونړونو اوسېدونکیو ترمنځ ډېر قوي اختلافات موجود ول، چې د جانبینو ترمنځ یې واټن پیدا کړی و، آیا هغه واټن اوس صفر شوی دی که نه؟*

ځواب هو الحمدالله، نږدې درې کاله مخکې چې کله ما د کونړونو ولایت ورونو قومونو د یووالي هلې ځلې پیل کړې، له هر کونړي سره به ما ولیدل، هغې به زه نور هم هڅولم او د خپل ملاتړ ډاډ به یې راکاوه مطلب دا چې د ټولو جهادي، سیاسي، تنظیمي او قومي شخصیتونو غوښتنه فقط او فقط د الله ج رضایت لاندې د کونړیانو وحدت او یووالی وو، دی او وي به

*پوښتنه: د موجوده خپلمنځي اختلافاتو په اړه څه نظر لرې؟*

ځواب په کابل کې کونړ مېشتو د یووالي شورا په دې هکله د علماء کرامو او متنفیذینو کمیسون جوړ کړی، چې د مدیره هئیت په مستقیمه همکاری به د هر ډول اختلافاتو د حل او مخنیوي لپاره کار کوي

*پوښتنه: کونړیانو او هېوادوالو ته کوم پیغام لرې؟*

ځواب د هرڅه نه مخکې باید ووایم، چې کونړ ولایت یعنې دسید جمال الدین افغان نابغه، د سید شمس الدین، سید بهاوالدین شاعر او لیکوال محترم ستوري صاحب ټاټوبی، د سولې او ثبات مرکز، د علم او تمدن ځانګو، د قیمتي کاڼو عناصرو او ځنګلونو د زړه راښکونکیو درو او منظرو د پاکې او صافې هوا او تل بهانده سیندونو لرونکې دی، چې د کونړیانو استعدادانو په روزلو کې مهم رول لوبوي په کونړیانو لازم دي، چې ددې ولایت د سمسورتیا، ابادی او سوکالی په خاطر د واقعي یووالی او وحدت لار خپله او د واحد، پرمختللي، مستقل، آزاد او په خپلو پښو ولاړ افغانستان لپاره هلې ځلې وکړي

***







# له سندرغاړي "بېدار باچا" سره مرکه

مرکه کوونکی: سید نور

پوښتنه: بیدار باچا صاحب! که تر ټولو دمخه مینه والو ته ځان ورو پېژنئ، خوښ به شو.

ځواب په خندا منته کوم، زما نوم بیدار باچا، د پلار نوم مې محمد طالب او د لغمان ولایت د عمرزیو د کلي اوسېدونکی یم

پوښتنه: د موسیقی میدان کې مو کله قدم کېښود ؟

ځواب له موسیقی سره مې له پخوا راهیسې مینه او علاقه درلوده، لا په ښوونځي کې وم چې د ترانې له ګروپ سره مې کله کله ترانې زمزمه کولې او هم مې د شاه ولي استاذ سندرې اورېدلې، چې اخر پخپله هم ددې لارې مسافر شوم

پوښتنه: که په دې هکله ووایې، چې د موسیقی زده کړه مو له چا څخه کړې ده؟

ځواب د موسیقی زده کړه مې د استاد شاه ولي له ورور استاد ولي جان ساپي څخه کړې ده

پوښتنه: ستاسې عمر او زده کړې تر کومې کچې پورې دي؟

ځواب اوس دېرش کلن یم او تر نهم ټولګي مې زده کړې کړې دي

پوښتنه: تراوسه مو د موسیقی په میدان کې کوم ایوارډ حاصل کړی او که نه؟

ځواب هو، بې شمېره انعامات مې

# د مېره او مېرمنې ترمنځ مشکلات او د حل لارې يې

زاهد جلالي

الله جل جلاله انسانان مختلف پيدا کړي دي، هم په رنګ، هم په خوی او هم په اخلاقو او هم په انساني روش کې، چې يو له دې اختلافاتو څخه د مېره او ښځې ترمنځ مشکلات دي، چې دا اختلافات کله ناکله داسې مرحلې ته رسېږي، چې يا به ښځه او مېړه سره جدا کېږي او يا به هم په ډېر بدحالت کې خپل ژوند سرته رسوي، چې بې له شکه دا اختلافات هم حل لري

زموږ په افغاني ټولنه کې د طلاق مسئله دومره عادي نه ده او داسې حالتونه لږ پېښېږي، چې ښځه او مېړه سره جدا شي او يو له بله طلاق واخلي، يعنې موږ بايد دا مسايل او اختلافات ډېر جدي ونګڼو، ځکه که دا اختلافات له منځه لاړ نشي، له يوې خوا خو به د دو ژوند هسې تېر شي او له بلې خوا ددې اختلاف ضرر به ټولنې ته هم ورسېږي، يعنې دا اختلاف په اولادونو بده اغېزه کوي

که ماشوم په خبره هم ونه پوهېږي، د مور او پلار ترمنځ شخړه درک کوي او منفي اغېزه پرې کوي او دا يې په فکر کې پاتې کېږي که هر څومره مشکلات جدي وي، بايد اولادونه پرې ونه پوهول شي او په ډېره چټکتيا سره بايد له منځه لاړ شي

ددې مشکلاتو د له منځه ولو لپاره بايد لومړی مېړه او ښځه سره کېني او مشکلات دې له منځه يوسي، چې دا کار څو ګټې لري

- د ماشوم رواني حالت په خپل حال پاتې کېږي

- د اولادونو په زړه کې د مور او پلار ښه څېره پاتې کېږي او مينې ته يې کوم ضرر نه رسېږي





د مشکل ښه حلېدل او د جنجال د اوږدېدو او له بدو پايلو څخه يې مخنيوی کوي

ددې لپاره چې مشکل په لنډه موده کې له اولادونو څخه پټ حل شي، بايد ځينې څيزونه په پام کې ولرو او په ځينو لارښوونو عمل وشي

کله چې له يوه لوري څخه ناوړه او غلط کار وشي، بايد بې له ځنډه په خپلې غلطۍ اعتراف وشي او له مقابل لوري ښښنه وغوښتل شي، چې دا کار د اختلاف د ختمولو لپاره اساسي لارښوونه ده

د مېره او ښځې ترمنځ ضد هم ډېر بد وي او ناوړه پايلې لري، چې ځان ترې بايد وساتل شي

د مېره او ښځې ترمنځ خپګان هم بايد اوږد نشي، له يوې شپې څخه زيات اوږد نشي د يوه او بل ناوړه کارونه بايد تحمل شي

درېيم کس ته بايد د مداخلې اجازه ورکړل شي، ترڅو د دوی مشکل حل کړي او دا کس بايد يا اروا پوه ډاکتر وي او يا د زوجينو مور او پلار وي

پاتې دې نه وي، چې د دوی د مشکلاتو د حل لپاره ځينې احاديث هم شته دي، چې کولای شي دداسې مشکلاتو د منځ ته راتلو مخه ونيسي، لکه چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايي "لا تغضب" يعنې مه په غوسه کېږه او همدارنګه وايي "من کان يؤمن بالله واليوم الاخر فليقل خيرا اوليصمت" ژباړه څوک چې پر خدای او د قيامت پر ورځ ايمان لري، يا دې ښه څه ووايي او يا دې چوپ (غلی) کېني او داسې نور احاديث هم شته، چې ددې مشکلاتو په حلولو کې له موږ سره مرسته کولای شي

په پای کې درته د يو جليل القدر صحابي يوه کيسه کوم، چې تر ډېره کولای شي زموږ کورني مشکلات له منځه يوسي، چې هغه کيسه داسې ده

د ابودر داء طريقه ابو درداء رضي الله عنه وايي، چې ما ددې لپاره چې په کور کې هېڅ کوم مشکل سره مخ نشو او له جنجالونو بې غمه شو، يوه طريقه وکاروله، چې هغه داسې وه ما مې ښځې ته وويل، که چېرته زه غوسه کېدم، ته به غلې کېنې او څه به نه وايې او کله که ته غوسه کېدې، زه به غلی کېنم او څه به نه وايم

موږ ته هم ښايي، چې د پورتنۍ طريقې په څېر په خپلو منځ کې يوه طريقه وټاکو، چې کورنی ژوند او د کورنۍ غړي مو هوسا و خوشحاله وي

***





# د نوښار ملنګ

محمد نعمان دوست /کابل

د تصوف درسي ساعت و، د دې مضمون استاد ستر عالم مرحوم سيد تقويم الحق کاکاخېل و صنف ته راننوت، خو مخکې له دې چې ليکچر پيل کړي، خبره په زيارتونو او ملنګانو شروع شوه

بحث ډېر تود شو او هر چا په دې اړه خپل اورېدلي او ليدلي شيان کاکاخېل صاحب سره، شريکول او پوښتنې يې ترې کولې

استاد هم د سترګو ليدلې يوه کيسه پيل کړه په نوښار کې د يوه مشهور زيارت يو ملنګ په خپله خونه کې ناڅاپي مړ شوی و، د دې ملنګ خونې ته زه هم له يوې ډلې سره لاړم، چې جنازه يې پورته کړو او په دې اړه پلټنه وکړو

کاکاخېل صاحب ويل چې کله مو د ملنګ خونه وپلټله، يو شمېر البمونه په کې وو، هغه کې د ښځو بلا ډېر بربنډ عکسونه وو او ځينو عکسونو کې ملنګ هم له دغو بربنډو مېرمنو سره په بېلابېلو بې شرمه حالاتو کې ښکارېده

کاکاخېل صاحب ويل، موږ دا ټول عکسونه راټول کړل او بيا مو په پټه وسوځول

استاد د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ولې يې دا کار وکړ؟ وويل (کم عقلو) دا ښځې خو د بل وطن نه وې، د همدې علاقې وې او که عکسونه يې خلکو ليدلي وی، نو يوه لويه فتنه به برپا شوې وه

د کاکاخېل صاحب دغه تکل له نږدې ۱۶-۱۷ کلونو وروسته يو ځل بيا





ځکه راياد شو، چې د رازونو افشا کوونکې وېبپاڼې ويکي ليکس (WikiLeaks) درېيم ځل لپاره ځينې محرم اسناد خپاره کړل

په دغو اسنادو کې زموږ د جهاد او مقاومت د ټيکه دارانو له ډلې څخه هم د يو شخص، چې کورنی يې بلا تشبيه (عشره مبشره) ګڼل کېږي، راز هم رسوا شوی دی

عشره مبشره تشبيه ورته ځکه راغله، چې د احمد ضياء مسعود د ورور احمدشاه مسعود د تلين په ياده غونډه کې يوه جهادي رهبر ويلي و، چې دې به له مسعود سره جنت کې ګوري

ويکي ليکس دا ځل د احمد ضياء مسعود له يو راز نه هم پرده پورته کړې ده، دغه شخص د ولسمشر حامد کرزي په لومړۍ دوره کې لومړی مرستيال او له ټولو مطمئن شخص و

ويکي ليکس ليکي، چې مسعود دوبۍ کې له ۵۲ ميليونه ډالرو سره، چې په يوه بکس کې اچولي و، ګير شو

د سرچينې په حواله، د متحده عربي اماراتو د نشه يي توکيو پر وړاندې د مبارزې ادارې د څارګريو ځواکونو له خوا دغه ډالر کشف او ترلاسه شول

خو ويکي ليکس په خپل تازه راپور کې ويلي، چې د امريکا د سفارت په وساطت دغه پيسې بېرته مسعود ته ورکړل شوې

مسعود، له داسې يوه هېواده په دومره کچه ډالر وړل، چې د ولس نيمايي برخه يې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او په وچه ډوډۍ نه دي ماړه

د نوښار ملنګ او زموږ د جهاد او مقاومت ټيکه داران يو شان دي، دوی تل د جهاد او مقاومت خبرې کوي، خو د پردې شاته په خپلو عيشونو کې ډوب دي

خو دلته يو تفاوت شته او هغه دا چې، د نوښار خلکو کې دومره متره وه، چې له خپل ناموس نه د دفاع په خاطر راپورته شي او د وينو لښتي وبهوي

خو دلته دا وېره نشته، دلته يواځې دغه خبرې په الفاظو کې دي چې وطن ناموس دی، خو په دغه ناموس څوک غيرت نه کوي، لوټ او تالان يې پرې ګډ دی

**څوک يې بچي وژني،**
**څوک يې شتمني لوټوي او**
**څوک يې ...!!!**

# د چاغوالي او د بدن د سلامتیا لپاره د پام وړ ټکي

په نړۍ کې او بیا په ځانګړې توګه په پرمختللیو هېوادونو کې اوس وخت د ډېرې خلکو لویه ستونزه دا ده، چې چاغ شوي دي او دوی له دغې بلا څخه د خلاصون لپاره ډېر کوښښ او هڅه کوي، خو لار ترې ورکه وي

زموږ په هېواد کې خو لا چاغوالی دومره زیات شوی نه دی، چې د ستونزې په سترګه دې ورته کتل شي له دې سره سره پېغلې و ښځې ډېرې لېواله وي، ترڅو خپل بدن په ښه تناسب کې وساتي، نو دوی له چاغوالي څخه ډېره کرکه کوي او ترې وېرېږي دا دی په دې لیکنه کې هغو ټکو ته اشاره شوې ده، چې دوی یې باید په پام کې ونیسي

له چاغوالي څخه ځان ساتل په دې سره نشي، چې له یوې مخې دې څوک له خوړو څخه خوله بنده کړي او یا دې له هر راز خوړو څخه خپله ګېډه ډکه کړي د سالم او غښتلي ژوند راز په دې کې دی، چې باید ټول هغه توکي په خوړو کې واخیستل شي، کوم چې بدن ورته اړتیا لري او له هغو توکیو او مواو څخه ډډه وشي، چې بدن ته زیان رسوي

د ښې پاېلو د ترلاسه کولو لپاره لاندې (۱۱) ټکي د پام وړ دي

۱ په خپل خوراک کې باید تل سبزي، مېوې، غلې دانې او اوبلن خواړه ولرئ

۲ هغه کسان، چې بدن یې چاغ دی، هغوی باید په خپل خوراک او څښاک کې تل کوښښ وکړي، چې طبیعي تریو (تروش) شیان تر خولې کړي په دې ډله کې د لېمو لویه، سرکه او نور تریوې (تروشي) مېوې او بوټي وکاروي

۳ د زړه د بې حالۍ لپاره کولی شي، چې یوه اندازه شات (عسل)، تازه شنه مرچ او زنجبیل په خپلو خوړو کې تر خولې کړي په کار ده،.چې اوسپنه او طبیعي ب کمپلیکس ویټامینونه هم وخوري

۴ پاتې شوي خواړه، سړه شوې کنسروا، د چرګ پوستکی او نور غوړېسن خواړه ونه خوري

۵ کله چې د چرګ یا د بل کوم حیوان غوښه د پخولو لپاره پاکوئ نو باید امرومرو ترې غدې او اضافه وازدې لرې کړي

۶ کوښښ وکړئ، چې له نباتي پروټینونو څخه ګټه پورته کړئ، یانې په خپلو خوړو کې غوښه کمه کړئ

۷ څومره چې کولای شئ او امکان ولري ساړه څښاک لکه کوکاکولا، فانټا، سپرایټ، ډیو او داسې نور ونه څښئ

۸ کله غواړئ چې چاغوالی مو له منځه ولاړ شي، نو په خوراکي موادو کې په لومړي ګام کې له غوړو او بیا په دویم ګام کې له خوږو شیانو څخه په بشپړه توګه ډډه وکړئ او که بدن مو متوازن وي، نو بیا کولای شئ چې په خپلو خوړو کې پورته دواړه توکي په خپله اندازه وخورئ، یانې هر شی چې له خپلې کچې واوړي، نو په زیان تمامېږي

۹ ډېرې چای چې په بازارونو کې پیدا او پلورل کېږي، هغه په خپل ترکیب کې مضر کیمیاوي مواد لري، چ بدن ته زیان رسوي ددې لپاره چې موږ وکولای شو چای وازمویو، نو دا کار دومره ستونزمن نه دی هغه داسې کېږي که په یوه ګیلاس کې چای واچوو او د نیم ساعت لپاره یې پرېږدو، په کراره کراره به د چای په سر باندې پوټکي پوټکي شیان رابرسېره شي او بیا چې وګورو، نو د ګیلاس د چایو رنګ په هم اوښتی وي، نو دا په دې مانا چې په دې چایو کې نور مواد ګډ دي، چې د انسان بدن ته زیان رسوي

۱۰ د چایو په هکله به دومره زیاته کړم، چې شین چای هم د چاغوالي په کمولو کې خپل اغېز لري په څېړنو کې معلومه شوې ده، چې شین چای د سرطان ضد مواد هم په خپل ترکیب کې لري، چې باید په نظر کې یې ولرو

۱۱ ددې لپاره چې چاغوالی راکم شوی وي، نو په کار ده چې د ورځې او یا هم د شپې له مخې په زیاته اندازه فزیکي فعالیت ترسره ش، ترڅو ذخیره شوي غوړ (شحم) په مصرف ورسېږي څومره چې کېدلی شي هومره باید کوښښ وکړو، چې بدني روزنې (سپورټ) او یا هم یواځې پلي ګرځېدو ته وخت بېل کړو





# څنګه کولای شئ خپله مېرمن خوشحاله وساتئ؟

نجیب الله پیمان

له معنوي پلوه په یوه کورنۍ کې د ښځې موقف د کورنۍ تر نورو غړیو اوچت دی او دغه قشر ته پاملرنه په یوه کورنۍ کې د خوښۍ او امن فضا رامنځته کوي په یوه کورنۍ کې د ښځې او خاوند ترمېنځ د ښه ژوند تېرولو په موخه باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي

۱ یو نارینه وړاندې تر دې چې خپل ګډ ژوند پیل کړي، باید د خپل ژوند ملګرې د هغو خصوصیاتو له مخې انتخاب کړي، چې دی یې هیله لري نه دا چې مور او پلار ته ووایي چې له هغې جینۍ سره واده کوم چې تاسو راته خوښه کړې، خو په راتلونکې کې په خپله خوښه بل واده کوم دا کار ددې لامل ګرځي، چې یو څو د دوه ځوانانو د ژوند خوښۍ په اوبو لاهو کېږي او له بل لوري یوه معصومې جینۍ د بدبختۍ او بې ځایه دودونو ښکار کېږي

۲ له خپلې مېرمنې سره په خوښۍ او غم کې ځان شریک وګڼئ

۳ د اړتیا وړ توکي یې په ټاکلي وخت او د هغې له خوښې سره سم ورته برابر کړئ

۴ خپلوانو او دوستانو ته یې متقابل احترام ولرئ

۵ هڅه وکړئ څو خپلې موخې او اهداف په زور ورباندې تحمیل نه کړئ

۶ د هغو لماتو د کارولو نه ډډه وکړئ، چې د هغې د ناراحتۍ لامل ګرځي

۷ د یوه رښتیني دوست په توګه رفتار ورسره کوئ

۸ د ژوند رازونه مه ترې پټوئ

۹ ژور درک ترې ولرئ

۱۰ د قهر په وړاندې یې له صبر او حوصلې نه کار واخلئ

۱۱ هېڅکله یې د نورو په وړاندې توهین مه کوئ

۱۲ کله چې په یوه کار مصروفه وي، په لوړ اواز غږ مه ورته کوئ او هغه کار په خپله وکړئ

۱۳ د ناروغۍ پر مهال مرسته ورسره وکړئ

۱۴ د ستونزمنو کارونو د ترسره کولو پر مهال یې مه نا امیده کوئ

۱۵ ښځه یوه عاطفه لرونکې موجود ده، عاطفه یې تر پښو لاندې مه کوئ

۱۶ د استعداد او کارونو ستاینه یې کوئ

۱۷ په خوشحالۍ یې خوښ او په غم یې غمجن اوسئ

۱۸ اعتماد د ژوند یو مهم رکن دی، باید یو پر بل اعتماد ولرئ

۱۹ نیوکې مو په ډېر صمیمیت ورسره شریکې کړئ

۲۰ په ټوکو هم ورته "زه بله ښځه کوم" مه وایه، ځکه زړه یې ماتېږي





# د کونړ د غرونو بازه

عارف خان همدرد

شاعري یوه الهي تحفه ده، چې په نړۍ کې ډېرو کمو خلکو ته په نصیب کېږي، چې عقل هم ددې الهي تحفې درک نه شي معلومولی

شاعر د ژوند له تماشو سره سره د خپل ذات په آئینه کې د کتو هنر هم لري، نو ځکه یې کله په شونډو موسکا او کله فریادونه وي، د وخت غمونه یې ژړوي، نو دغه هنر خاوند خپل قلم راپورته کړي، کله د ځان، کله د جهان او کله د جانان د دردونکیو کیسو لپاره د الفاظو لټون کوي

زه شاعر د معاشرې انځورګر او خبریال بولم او هنرمند ورته نطاق ګڼم، ځکه د شاعر هره خبره که د شعر په ژبه وي او که د نثر، له پند او هنر څخه خالي نه وي زما په خیال د شاعر ژبه ډېره خوږه وي او په مېنو خلکو داسې لګېږي، لکه څوک چې په زخمي زړه د ملهم پټۍ ږدي

زه چې نن د چا په هنر څه لیکم، دغه مینه ناک او عزت ناک انسان د تعریف محتاج نه دی، دی د خپل هنر په زور د هر چا په زړه کې ځای لري، دده د قلم او ژبې خوږوالي ته د هوا مرغان هم سلام کوي

تاسو (لوستونکیو) به پوه شوي یاست، چې د دومره خبرو او د هنر انځورګر څوک د کېدی شي؟ ښکاره خبره ده، دغه ځوان شاعر، د ننګونو، ښکلو شنو سردرو او مست سیند لرونکي ولایت (کونړ) د جګو غرونو شاهین "اباسین سیلاب" دی، چې په ډېره تنکۍ ځوانۍ کې یې د مینې تنور ته غاړه ورکړې، خو د خپلې مینې ډېر ګیله من ښکاري او د خپل زړه خبرې څه داسې څرګندوي

چې په غم دې ژړېدمه هغه زه وم

ګران ملګري اباسین سیلاب راته د شاعرۍ په دنیا کې داسې ښکاري لکه چې د عمر ډېره برخه یې په کړاونو او تکلیفونو کې تېره کړې وي او د خپل





دردېدلي ژوند ډېره برخه يې د يار مينې ته وربښلې، خو په مينه کې د زخمونو راغونډېدل د مينې لپاره مرګ دی او چې مينه مړه شي، نو د ژوند ټول مقصد مينه له ځان سره يوسي

ما چې د ښاغلي اباسين سيلاب صيب شاعري وکته، نو په دې پوه شوم، چې د سيلاب کار او روزګار مينه ده او که د مينې په حقيقت څوک پوهېږي، نو يواځې شاعر پوهېږي، ځکه خو ښاغلی سيلاب د خپل زړه د ټکور په خاطر داسې وايي

ګرانه ده زړګيه مينه ګرانه ده
چادرته ويلي چې اسانه ده

مه کوه زړګيه داسې مه کوه
لاخو مې د زړه جونګړه ورانه ده

هسې د ناوې لاندې مې شپه شوله
څه وکړمه تېښته له بارانه ده

د سيلاب صيب نوره شاعري هم خوندوره ده او د شعر ډېرې برخې يې سندريزه بڼه لري، زه ښاغلي سيلاب ته ددغې شعري ټولګې مبارکي وايم، د قلم وينه يې د تل لپاره تازه غواړم او لاس په دعا يم، چې د ژوند په ټولو چارو کې بريالی اوسي او هغه مينه، چې دې يې غوښتونککی دی، ور په نصيب شي

***

## دا دې څنګه زمانه کې راپيدا کړم؟

شاه سعود

په ښارونو کې، په کلو کې، کوڅو کې
هديرې دي د قبرونو نه وېرېږم
د ورځپاڼو عبارت لوستلی نشم
زر يې کېږدم د خبرونو نه وېرېږم

هر سړي ته بل د شک په نظر ګوري
په انسان باندې يقين چا سره نشته
څوک يوه دعا هم نه غواړي د مينې
او که وغواړي "آمين" چا سره نشته

هر انسان د بل انسان د وينو تږی
هر سړی د بل سړي د سر قاتل دی
د ملت او د مذهب خبره نه ده
ژوند له حقه منکر شوی دی، باطل دی

دا دې څنګه زمانه کې راپيدا کړم
هر طرفته يو وحشت په خلکو خور دی
د الفت او محبت خبرې نشته
يو تر بله بس نفرت په خلکو خور دی

هغه خلک چې استازي وو د مينې
د تاريخ په کتابونو کې پراته دي
مزارونه يې روښانه مشالونه
لا تراوسه ګلابونو کې پراته دي

خلک ځي او ځادرونه غوړوي پرې
خو په لارو يې قدم اخيستی نشي
تږي، تږي ترېنه بېرته راواپس شي
وچو شونډو له ترې نم اخيستی نشي



## د صاحب شاه صابر کليات چاپ شو

ستوری مجله ټولو شاعرانو او د شعر مينه والو ته زېری ورکوي، چې د پښتونخوا د نامتو او خوږ ژبي شاعر ارواښاد صاحب شاه صابر کليات اوس اوس د دانش خپرندويې ټولنې له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر، په ښاپسته صحافت او ښکلې پوښتې له چاپه راوتي دي، چې د چاپ زيار يې ذبيح شفق ترسره کړی

ددې کليات ځانګړنه دا ده، چې دانش خپرندويې ټولنې دا د ارواښاد له کورنۍ سره د مرستې په نيت خپور کړی دی، نو ځکه موږ هم له خپلو لوستونکيو څخه هيله لرو، چې نوموړی کليات واخلي او د ارواښاد له کورنۍ سره څه ناڅه مرسته وکړي

د ستوري مجلې اداره دانش خپرندويې ټولنې ته مبارکي ورکوي، چې د لومړي ځل لپاره يې يو نوی کار وکړ

مينه وال کولای شي، چې نوموړی کليات د لرې او برې پښتونخوا له هر کتابپلورنځي څخه ترلاسه کړي

## د ستوري استازي

| | |
|---|---|
| کابل | استاد عبدالظاهر شکېب |
| ننګرهار | شفيع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کرياب |
| اسمار | طارق سالارزی |
| لغمان | امين الدين |
| باجوړ | سيد اغا مياخېل |
| پېښور | ذبيح شفق |
| جرمني | نسيم ستوری |

## پته:

د کونړ ولايت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی طلايي بانډه، د ستوري د خپروني اداره

کوټوال: 0772931465
حيات 0774322484
کوچوان 0772935377

***

ستوری مجله د هېچا د ليکنې ننګه نه کوي، هرليکوال ته بويه، چې د خپلې ليکنې سپيناوی پخپله وکړي
ستوری مجله به هغه ليکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي يووالي ته په زيان تمامېږي

***

# خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****


د امتياز څښتن / زمه وار: د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدير: عرفان اللّٰه کوټوال  مرستيال: هدايت اللّٰه حيات

کتنپلاوی: بصير بيدار ستوری، محمد داود صديقي، عصمت اللّٰه ملنګ، فضل الهادي عاصم، ميرسلام مجاور، ګلرنګ کوچوان

سلاکاره ډله: څېړنيار وجيه اللّٰه شپون، څېړندوی عبدالقيوم زاهد مشواڼی، شفيع اللّٰه تاند
همکار غړي: رحيم اللّٰه خان، داود شاه داود، صادق فقير، رضوان الله شپون


د " ستوري " استازي:

کابل: عبدالظاهر شکيب  ننګرهار: شفيع الله تاند
کونړ: نعمت الله کرياب  اسمار: طارق سلارزی
لغمان: امين الدين  باجوړ: سيداغا مياخيل  پېښور: ذبيح شفق
جرمني : نسيم ستوری